ددی کتاب pdf کوونکی عبدالشکور
احمدی ستاسو د دوعاوو په هیله




Download from:aghalibrary.com

## دکتاب ځانګړني

- دکتاب نوم: دګناهونو نقصانونه «پښتو»
- ليکوال: دکتورعايض القرني
- ژباړن: مولوي قاري روح الله صافي (فاضل جامعه دارالعلوم حقانيه)
- مصحح: استاد قارى ابوعادل محمدطاهر صاحب
- کمپوزر: قارى روح الله صافى.
- ناشر: مکتبة الحرم صدف پلازه محله جنګي پشاور
- کمپوز: الحرم کمپوزنګ سنټر عثمان پلازه جى ټى روډ اکوړه خټک.

بشپړ حقوق دناشرسره خوندي دي

مسؤلين
طالب العلم: فضل الرحمن ( حيدرى ) ۰۳۰۰۹۳۹۵۹۱۹
قاري عين الدين ( ابراهيمي ) ۰۳۰۶۷۶۱۶۵۶۹.

## دالــی

داوړه هڅه که قبوله شي دالله تعالی پـه دربـارکې نوثواب يې خپلو والدينو اوخـصوصاًمرحوم تـره امـان الله ته اوخپل مشرورور، دهجـرت پـه ديـارکې يې زماپه تريبـه اوپالنـه کې نـه ستړې کيـدونکي هڅي کړي دي.

قاری روح الله صافی

# لـــړليـــک

| مخ | موضوع |
|---|---|
| ۱۵ | لومړی- دګناهونويو لوي تاثيراواغيزه |
| ۲۶ | دګناه دوهمه اغيزه (تاثير) |
| ۲۹ | دګناه دريمه اغېزه (تاثير) |
| ۳۷ | دګناه څلورمه اغيزه ( تاثير) |
| ۳۷ | دخلکوپه زړونوکې کينه اوبغض |
| ۴۱ | دګناه پنځمه اغيزه (تاثير) |
| ۴۱ | دبنده اودخدای جل جلاله په مينځ کې بېلتون |
| ۴۴ | دګناه شپږمه اغيزه (تاثير) / دزړه سختوالی |
| ۴۹ | دګناه اوومه اغيزه (تاثير)/دژوند خرابيدل |
| ۵۲ | دګناه اتمه اغيزه (تاثير) |

بسم الله الرحمن الرحيم

اَنِ الْحَمْدُلِلهِ نَحْمَده وَنَسْتَعِيْنه وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوْذُبِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفسِنا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا، مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلاَمُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلا هَادِىَ له وَاَشْهَدُ اَنْ لَّااِلهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَه لَاشَرِيْک له وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُه وَرَسُوْلُه.

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٠٢﴾ [1]

يَاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِىْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِىْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ۗ اِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ﴿١﴾ [2]

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿٧٠﴾ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۗ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾ [3]

مسلمانانو ورونو!

بايد دهميشه لپاره په دې لته کې اوسو. اوهميشه کوښښ وکړو چې ناسته اوولاړه مو نېکوخلکو سره وي. او هيڅ وخت دنېکانو دمجلسونو دفيوضاتو څخه ناخبره اوبې پروا نه شو. ځکه چې دداسې

---

[1] (سورة آل عمران).

[2] (سورة النسآء)

[3] (سورة الاحزاب).

نېکو اوپاک سیرته خلکوپه مجلسونوکې ددنیا اواخرت سلامتي اوخوشحالي حاصلیږي اودنېکانو په مجلسونوکې دالله تعالی رحمت ترلاسه کېدای شي ځکه چې دالله تعالی ددین سترشخصیتونه اونامتو خلک دهمیشه لپاره حقه خبره کوي اودخیر کلمه یې پرژبه باندې جاري وي اودنېکو عملونو اوښه خویونو ښودنه کوي دالله ﷻ څخه ارزولرو چې پخپل فضل اوکرم سره دې دحق خبره زموږپه ژبوباندې جاري کړي اوپه حقه خبره باندې دتل لپاره زموږژبه خوځېدونکي لري اوهغه څه چې وایو یې دنېکۍ په تله کې راته واچوي لوی خدای ﷻ دې زموږپه اعمالو، افعالو، اواقوالوکې داسې کوم څه نه پیداکوي چې دنورولپاره وي مثلاً چې دالله ﷻ درضانه پرته دبل چا رضا ورباندې ولټوو لوی خدای ﷻ مودې له ریاکارۍ اوځان ښوودنې څخه وژغورې.

ای مسلمانانو!

لکه څرنګه مو چې ددې مختصر رسالې نوم (دګناهونو نقصانونه) ایښی دی نوځکه کوشش کوو چې په دې رساله کې دګناهونوپه باره کې خبرې وکړو اودهغو دناوړو اغېزو اودهغونه دځان ساتنې لارې چارې په ګوته کړو

(په دې باید پوه شئ) چې هیڅ شی قومونه اوملتونه له پښونه نه غورځوي . هیڅ څیز هم زړونه نه خرابه وي. هیڅ څیز هم ددوستۍ اوورورولۍ پړی او تعلق نه پریکوي. هیڅ څیز هم دانسان فکرونه نه ګډوډوي مګرګناوې هغه یوازینی بدبختۍ سبب دی چې

انسان په کې اخته کیږي نوبیا دهر خیر څخه بې برخي کیږي.

همدغه ګناهونه دي چې دانسان خوراک خرابه وي، همدغه ګناهونه دي چې دانسان زړه سختوي، همدغه ګناهونه دي چې دالله ﷻ قهر اوغضب راپورته کیږي، اوهمدغه ګناهونه دي چې دبې شمیره فتنو اوفسادونو سبب ګرځي نوباید چې دهیڅ شي څخه ونه وېرېږو مګر دخپلو ګناهونوڅخه.

همدغه ګناهونه دي چې ددوزخ اورګرموي اودالهي عذاب سبب کیږي اودپل صراط څخه دتېرېدل سختوي.

زماګرانو ورونو!

دګناهونو اثار اونښي ډېرې دي چې ځینو اسلامي پوهانو دهغو شمیر ډېرش اټکل کړی دی خوپه دې هکله ترټولوجالبه خبره چې چاکړی هغه داسلامي نړۍ سترشخصیت اونامتوعالم حافظ ابن قیم رحمه الله په خپل کتاب (الجواب الکافي لمن سال عن الدواء الشافی) نومې کتاب کې، همدارنګه شیخ الاسلام تقی الدین حرانی رحمه الله دخپلوفتواوپه لسم ټوک کې اوهمدارنګه نوروعالمانوپه خپل وارسره دګناهونو داثرونو په اړه ډېر په زړه پوري بحثونه اوڅېړنې کړي دي چې موږ په دې ځای کې دهغې جملې څخه دګناه اووه نښې په اجمالي توګې سره ذکر کوو اوهغه دادي:

(اول): په ژوند کې تنګسیااوغمونه.

(دوهم): دروزۍ تنګي

(دریم): دعلم هېرېدل

(شلورم): له ګناهګارشخص سره دخلکو کینه پیداکیدل.

(پنځم): دبنده اودهغه درب په مینځ کې بیلتون(جداوالی) راځي.

(شپږم): دزړه سختوالی اومړه کېدل.

(اووم): دهغوناوړو عواقبودترسره کولوپه صورت کې په دنیاکې بې توبې مړشي اوپه اخرت کې دخیر نه بې برخې شي.

زماګرانو ورونو!

په قرانکریم کې یوازینی حکم چې ډیر تکرار شوې اوالله جل جلاله مسلمانان هغې ته متوجه کړي دي هغه تقوا ده. باید مسلمان دالله جل جلاله نه په کلکه ووېرېږي، الله جل جلاله په ال عمران سورت کې داسې فرمایلي دي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿١٠٢﴾ (1)

(ژباړه): ای دایمان ښتنانو! ووېرېږئ دالله جل جلاله نه په حقه ویرې سره اومه مړه کیږي مګر په داسې حال کې چې مسلمانان یاست.

ددین پوهان مسلمانان تقوا پیژني اوداسبابواوافکارو داختلاف له وجې قسماقسم تعریفونه اوډول ډول تعبیرونه کړي دي، شیخ الاسلام تقي الدین رحمه الله وایې: چې تقوا هغه څه ته وایې: چې دهغه کړه وړه ټول پرځای کړی شي کوم چې دالله جل جلاله لخوا ورته حکم شوی وي اودکوموممنهیاتوڅخه چې منعه شوی ده دهغې څخه ډډه وکړي.

ځینوعالمانو ددې خبرې نسبت حضرت علی رضي الله عنه ته کړی، هغه مبارک به دتقواپه هکله داسې فرمایلي:

(1) (سورة آل عمران).

(الخوف من الجليل والعمل بالتنزيل والرضا بالقليل والاستعداد ليوم الرحيل).

(ژباړه) : تقوا داده چې دالله نه ووېرېږي، په رانازلوشوو احکاموعمل وشي، په لږشي باندې راضي شي، اوداخرت دورځې لپاره تیاری وکړي.

ابن رجب رحمه الله وايي چې ځینې عالمان وايي:

تقوا داده چې دکبیره اوصغیره ګناهونوڅخه ځان وساتي.

ځینې پوهان وايي تقواداده چې دالله جل جلاله رضامندي دژوندنصب العین وګرځوی. همدغه داحسان مرتبه ده چې انسان ورته رسیږي همدغه بنده ترټولونېکمرغه دی لکه چې په صحیح البخاري کې فرمايي:

(ان تعبدالله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک)!

(ژباړه) : چې ته دالله جل جلاله داسې عبادت وکړه لکه چې ته یې وینې، نوکه ته هغه نه وینې هغه خوتاوینې.

رسول کریم صلی الله علیه وسلم دتقوا دژوندعملي تفسیرکړی، پخپل سلوک یې تفسیرکړی، اوپه خپل عمل یې تفسیر کړی دی.

رسول کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضي الله عنهم ته وفرمایل چې:

ان اتقاکم واعلمکم بالله انا (١)

(ژباړه) : یقیناً ستاسوڅخه دالله جل جلاله نه زیات وېرېدونکیٓ او دستاسو څخه په الله جل جلاله ډېر عالم زه یم.

---

[1] فتح الباري، دبخاري شرحه ١/ ٧٠ شماره - ٢٠

همدغه وجه ده،چې امام بخاري هغه د( المعرفة معرفة القلب) ترعنوان لاندې يادکړی دی يعني اصلي علم اوپوهه دزړه پوهه ده ترټولوخلکونه زيات وېرېدونکی دالله نه اوزيات متقي رسول کريم ﷺ و، اودرسول کريم ﷺ څخه وروسته دهغه صحابه کرام رضي الله عنهم هغه خلک دي چې دالله جل جلاله نه ډېرزيات وېرېدل، اواسلامي امت ته يې دتقوا نمونه وښودله اوتقوا يې په خپل قول اوعمل سره تعبير اوتفسير کړی دی.

دهغوي تقواصرف خالي اميدونه اوهيلي نه وې، نه دمينځ څو تشی خبرې وې،نه پراګنده فکرونه وو چې دحقيقت نه خالي وي اونه دهغوي تقوا دعواطفواواحساساتونوم وو بلکه په هغوي کې حقيقي تقوا موجوده وه.

امام مالک رحمه الله په خپل کتاب(موطا) کې دحسن نه موقوفاً روايت کوي وايې چې:

(ليس الايمان بالتحلی ولابالتمنی ولکن ماوقرفی القلب وصدقه العمل) (۱)

(ژباړه) ايمان دتش ادعاوو اوارزوګانونوم نه دی بلکه اصلی اوحقيقی ايمان هغه دی چې په زړه کې ځای ونيسي اوعمل يې رښتينی وي.

تقوا په زړه کې څنګه ځای پيداکوي؟

هغه امورچې اسلامي پوهانواوعالمانو په دې هکله تجويز کړي هغه دادي:

---

[۱]: ابن ابی شيبه په (الصنف) اوخطيب د(اقتضاء العلم والعمل) په ۵۶ ګڼه کې روايت کړی دی.

په سنتوباندې عمل کول.

(اول): په قران عظيم الشان اودرسول کريم ﷺ په سنتوباندې

(دوهم): اميدونه اوهيلې کمول.

(دريم): نفسي غوښتني اودعقل تابع کول.

امام احمدبن حنبل رحمه الله په خپل کتاب (الزهد) کې لاندينې قول په جيدواسنادسره دحضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه څخه نقل کوي وايې:

( حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه ديوه انصار سړی کښت ته ورغی هلته يې يومرغه وليده چې ديوې ونې نه بلې ونې ته اوديوې څانګې نه بلې څانګې ته الوزي ، هغه مبارک چې دامنظر وليده وېې ژړل اوکېناست، صحابه کرامو ورته وفرمايل ولې؟ پرڅه ژړاې ای دالله درسول خليفه؟ وېې فرمايل:

(طوبى لهذا الطير يشرب الماء ياكل من الثمرثم يموت لاحساب ولاعذاب ياليتنى كنت طائرا).

(ژباړه): خوشحالی ددې مرغه ده په هرحال، اوبه څښي اومېوې خوري، بيامړ کيږي، نه حساب شته اونه عذاب ، ای کاش کې چې زه مرغه وای.

داديوې دقيقې د محاسبې احساس و، چې دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په زړه کې موجود و، اوهغه دهغه جناب دقوي ايمان نښه وه، چې حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه دهغه څخه برخمن و.

حضرت ابوبکر رضي الله عنه درسول کريم ﷺ نه روايت کوي، چې هغه مبارک وفرمايل:

( ان الجنة ابواباً ثمانية فمن كان من اهل الصلاة، ومن كان من اهل الصيام دُعى من باب الصيام ومن كان من اهل الجهاد دعى من باب الجهاد الى آخر تلک الابواب). (۱)

(ژباړه): دجنت اته دروازې دي نوڅوک چې دلمونځ کوونکونه وي هغوي ته به دلمانځه ددروازې څخه بلنه ورکړل شي، اوڅوک چې دروژه تيانو څخه وي هغوي ته به دروژې ددروازې څخه بلنه ورکړل شي، اوڅوک چې دمجاهدينوڅخه وي هغوي ته به دجهاد له دروازې څخه بلنه ورکړل شي تراخره ددغودروازوپورې.

حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه رسول اکرم ﷺ ته عرض وکړ چې يارسول الله ﷺ! داسې څوک به هم وي چې داتوواړو دروازوڅخه بلنه ورکړل شي؟

هيڅوک پوښتنه نه کوي مګر ابوبکرصديق رضي الله عنه، هيڅوک نه وړاندې کيږي پوښتنې ته مګرابوبکرصديق رضي الله عنه.

ابن قيم رحمه الله ددې پوښتنې په تفسيرکې وايي:

چاابوبکرصديق رضي الله عنه غوندې سيرت درلود چې لومړی لمونځ کوونکی و، په لومړنيو روژه نيوونکوکې و، په لومړنيوذکر کوونکوکې و، اوپه لومړنيومجاهدينوکې و.

رسول کريم ﷺ دحضرت ابوبکرصديق ﷺ ددې پوښتنې په ځواب کې وفرمايل: هو! ځيني کسان به داتوواړو دروازو نه وروغوښتل کيږي اوزه هيله من يم چې ته به يودهغوي څخه يې ای

---

[1]: بخاري: ۷/ ۱۹ / (۳۶۶۶ګڼه)، مسلم: ۲/ ۷۱۱ - ۷۱۲ (۱۰۲۷ ګڼه).

ابوبکره رضي الله عنه !.

خوابوبکر صدیق رضي الله عنه داسې نه کوي چې ددې وعدو په انتظار کې کېني بلکه تقوا اودنفس محاسبه به يې همیشه په پام کې ساتله اوپردې يې ایمان درلوده چې دالله جل جلاله حضورته به وړاندې کېږي.

حافظ ابن قیم رحمه الله په (روضة المحبین) کې وايې داهم دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه نه حکایت کوي:

کله چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دخلافت چارې په لاس کې واخیستې هره ورځ به دسهاردلمانځه څخه وروسته دجومات څخه اووت اوحضرت عمر رضي الله عنه به هغه هره ورځ لیده چې دجومات نه اوزي، دحضرت عمر رضي الله عنه سره پوښتنه پیداشوه چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه هره ورځ چېرې ځي؟ یوه ورځ يې هغه داسې تعقیب کړ (چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په دې نه وه پوه چې حضرت عمر رضي الله عنه ورپسې دی) حضرت عمر رضي الله عنه ويني چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دمسلمانانو دکلي یوې خېمې ته ورننه ووت خو کله چې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دخېمې نه ووت حضرت عمر رضي الله عنه هلته ورننووت هلته يې یوه بوډۍ ښځه ولیدله چې په ډېر بدحالت کې ژوند کوي اوپه دغه وخت کې په سترګو ړنده وه، کله چې حضرت عمر رضي الله عنه خېمې ته ورننووت پوښتنه يې وکړه چې ای دالله جل جلاله بنده ته څوک يې؟

هغې بوډۍ په ځواب کې ورته وویل: چې یوه بوډۍ ړنده ښځه یم اوژوندمې هم خراب دی. حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل چې دغه سړی

څوک دی چې تاته راځي؟ بوډۍ ورته وویل چې هغه نه پېژنم.

حضرت عمر رضي الله عنه بیا ترینه پوښتنه وکړه چې دڅه لپاره هغه دلته تاته راځي؟

بوډۍ ورته وویل چې خواړه راته برابروي، خونه راته جاروکوي اومیږۍ راته لو شي.

حضرت عمر رضي الله عنه چې داخبرې واورېدې داوښکوڅخه یې سترګې ډکې شوې اوډېرزیات یې وژړل ویې ویل، چې:

( اتعبت الخلفاء من بعدک یاابابکر)!

ای ابوبکره رضي الله عنه !

په الله جل جلاله باندې قسم دی چې همدغه تقواده. هیڅ ممکنه نه ده چې دغه عمل ددغوستروشخصیتونو څخه پرته په نوروکې ولټوو،بې ددغوسترومېړونو په سیرتونوکې چې الله جل جلاله یې درجې اومرتبې لوړې کړي دي.

هغوي زموږ اسلاف دي، رسول کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ وفرمایل چې: هل اصبح فیکم الیوم احدصائم؟ قال ابوبکرانا، قال رسول الله هل شیع احدمنکم جنازة؟ قال ابوبکرانا، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم هل تصدق احدکم الیوم بصدقة؟ قال ابوبکرانا، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم هل عاد احد منکم مریضاً؟ قال ابوبکر انا، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مااجتمعت هذه الامور في احد فی یوم واحد الادخل الجنة)(۱)

[1] مسلم روایت کړي: ۴/ ۷۵۸۱ ګڼه.

(ژباړه): په تاسو کې داسې څوک شته چې سهار راپورته شوی وي اوروژه یې نیولې وي؟ حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه وویل چې زما روژه ده، رسول کریم ﷺ وفرمایل چې نن چاله تاسوڅخه دجنازې سره ملګرتیا کړې ده؟ حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه وویل مادغه کار کړی دی، رسول کریم ﷺ وفرمایل چې نن چاصدقه ورکړیده ؟ حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه وویل ماصدقه ورکړې ده، رسول کریم ﷺ وفرمایل چې نن په تاسو کې چادناروغ پوښتنه کړې ده؟ حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه وویل چې مادناروغ عیادت کړی دی، رسول کریم ﷺ وفرمایل چې نه دي یوځای شوي دغه ټول کارونه په چاکې په یوه ورځ مګرداچې جنت ته به داخل شي.

دغه رښتیني خبردی چې درسول کریم ﷺ نه رانقل شوی چې فرمایلی یې دي:

( انه من اهل الجنة).

(ژباړه): هغه (حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه) دجنت دخاوندانوڅخه دی. داپه داسې احادیثوکې ثابته شوې چې دتواترپه درجه کې قرارلري.

حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دومره وېرېده چې ټول به لړزېده اوهروخت به په داسې کارونوکې مصروف و چې دالله جل جلاله رضامندي پرې حاصلېدله، دحضرت ابوبکرصدیق تقوا دومره زیاته وه چې دقلم په ژبه نه شي بیانېدلی، اودهغه تقوا عملي وه نه نظري اودخپل مقصرانه ژوند په اړوند الله جل جلاله ته شکایت کوو.

په دې هکله نورڅه نه شوویلای بې دهغې یوې خبرې نه چې

یودتابعینونه حضرت سفیان ثوري رحمه الله ته کړې وه، هغه داچې:

(ذهب القوم علی خیول جادة ونحن نذهب علی حمیر).

(ژباړه): هغه خلک (صحابه کرام رضي الله عنهم) پرډېروګړندیواسونو سپاره ولاړل اوموږ پرخرودمنزل پرلور روان یو.

امام سفیان ثوري رحمه الله ورته وویل چې:

(والله لیصلن بالقوم اذاسلکت ماسلکوا ولو کنا علی الحمیر بحیث نبقی علی الخط وعلی الاتجاه وعلی الطریق الذی ساروا علیه).

(ژباړه): په الله جل جلاله باندې قسم چې پیوسته به شو په هغوخلکو پورې که موتګلاره غوره کړه کومه چې هغوي غوره کړې وه که څه هم پرخروباندې سفرکوو، ترڅو چې دهغوی تګلاره تعقیبوو اودهغوی په قدم باندې روان شوپه کومه چې هغوې تللي دي.

امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح البخاري کې د(الرجل یحب القوم) ترعنوان لاندې لیکلي دي چې رسوالله صلی الله علیه وسلم خلکوته وینا کوله په دې ضمن کې یوکوچی سړی دخپل ځای نه پورته شو اودهغه صاحب نه یې پوښتنه وکړه، چې: (متی الساعة؟) (ژباړه): قیامت به کله وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: (ماذا اعدت لها؟) (ژباړه): دقیامت لپاره دې څه تیاری کړی؟ هغه سړي ورته عرض وکړ، چې بې دلمانځه اوروژې اوصدقې نه مې څه نوره زیات تیاری نه دی کړې، خودالله اودالله درسول سره مینه لرم.

رسول کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

(المرء يحشر مع من احب).

(ژباړه) هرڅوک به دهغه چاسره حشر کيږي چې دچاسره يې مينه وي.

امام شافعي رحمه الله فرمايي:

احب الصالحين ولست منهم لعلي ان انال بهم شفاعة

واكره من تجارته المعاصي ولوكناسواء فى البضاعة (١)

يعني: نېکان اوصالحان خلک مې خوښيږي که څه هم هغوی څخه نه يم، ارزو ده چې دهغوی په واسطه شفاعت وغواړم او دهغه چانه نفرت لرم چې دګناهونو تجارت کوي، که څه هم په مال کې سره برابريو.

ای زماګرانو اوعزتمندو ورونو!

په الله جل جلاله باندې قسم چې هيڅاهم دګناهونونه بي خونده شی نه دی څکلی، اونه يې کوم پليت اوناولی شی دګناهونونه زيات ليدلی، ډېر خلک داکوشش کوي چې خپل ګناهونه هېر کړي ولي هماغه ګناهونه دي چې دخفګان اوپريشانی اوډول ډول مصيبتونو په شکل کې يې په مخ کې قطاريږي، ګنهکارانسان همېشه خفه وي، مايوس اودهرڅه نه زړه توری وي ترټولو زياته دبدختی خبره داده چې ګناهونه انسان دالله جل جلاله نه ليري کوي اودالله جل جلاله نه ليري والی ددنيا اواخرت دبدبختی سبب کيږي، هرڅوک چې غواړي الله جل جلاله ته ځان نژدې کړي اونېک عمل کوي الله تعالی هغه ته ورنژدې کيږي اوهغه

---

[1] : ديوان الشافعي : ٥٦

ته په ژوند کې ډاډورپه برخه کوي ،اوکه نه نو غمونه اوخفګان به یې په دنیا اواخرت کې لکه دسیوری په پشان یې تعقیبوي.

## لومړۍ دګناهونویو لوي تاثیراواغیزه

دګناهونویوه ډېره کرغیړنه اغیزه اواثر چې دانسان دملاتیر ورماتوي داده، چې انسان دروزي دتنګسیاسره مخامخ کوي، اخرته نه رسېدونکو غمونواوپرېشانیو کې یې اخته کوي همېشه مایوسه اوخواشینی وي، په دماغي ناروغۍ یې اخته کوي، همېشه ناقراره وي، لکه دلېونیانوپشان دخندا ډک حرکتونه کوي اودغه کاردومره اوږدېږي چې تردې دګنهګار انسان اخرت ته هم رسېږي الله ﷻ دطه سورت په (۱۲۴-۱۲۶) ګڼه ایتونوکې فرمایي:

(وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذَلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَلِكَ الْيَوْمَ تُنْسَى ﴿١٢٦﴾)

(ژباړه): هرڅوک چې مخ واړوي زما دذکر نه نودهغه لپاره به تنګ ژوندوي اودقیامت په ورځ کې به یې ړوند راپورته کوو، وبه وایي: زما ربه ولی دي زه ړوند راپورته کړم زه خوبینا وم، وبه وایي (الله تعالی) همدارنګه درکړي مو وو ایتونه خپل نوهغه دي هیر کړل اوهمدارنګه نن موته هیر کړې.

شیخ الاسلام هلته چې دخپلو فتوو په ځلورم ټوک کې دمتکلمینو.

بحث خیږي وایي، چې: دعلم کلام اومنطق یوه عالم ته وویل شول، توبه وکړه دالله تعالی عبادت کوه ترڅودالله تعالی معرفت درته حاصل شي، داځکه چې هغوی (دمنطق اوکلام علماء) دالله تعالی کون اوژوندون په معرفت کې یوازې په نظري لارواوطریقوتکیه کوي اوپه قراني ایتونو اونبوي صحیحو احادیثو کې غور نه کوي، هغه منطقی په څواب کې وویل: ارزو لرم چې پرنیغه لاره روان شم خوشه وکړم چې زړه مي تیارو نیولی دی.

امام تقی الدین حرانی د( درء تعارض العقل والنقل) په لومړی ټوک کې هلته چې دیوه معتزلي علامه نه چې ابن خطیب یاابن خطاب نومېږي بحث کوي، وایي چې: خوهغه سره ددې هم درښتینې ژوند دودنه لیري و، که چیرته هغه صحیح محمدي تګلاره نیولي وای یقیناً به دالله ﷻ رضا ورته حاصله شوې وای، وایي چې هغه ددغوشعرونو خاوند دی چې په هغوکې یې ویلی دي:

وحقک لوادخلتنی النار قلت للذین با قدکنتم مماحبه

وافنیت عمري فی علوم کثیرة ومایغتی الارضاه وقربه

اماقلتموا من کان فینا مُجاهداً سیحمدسعاه ویقرب قربه

(ژباړه): داستاحق دی، چې ما اورته دننه کوی ومې ویل هغوکسانو ته چې و په هغه، یقیناً وی تاسودهغو خلکونه چې خوښول مي اودخپل ژوند زیاته برخه مي په زیاتوعلوموکې ولګوله، اوهیڅ بله ارزو اوتمه مې نه درلوده مګر دهغه رضا. خوموویل چې څوک به موږ کې مجاهد و وبه ستایلی شي دهغه کړه وړه اونژدې به یې کړي

قرب دهغه ته.

دغه ښه شعرونه دي چې دهغه چادژبي نه ویل شوي چې لاره یې نه ده پیژندلې، اوتقوا پرلاره مخ په وړاندې نه دی تللی همدغه وجه ده چې ځیني دهغوی نه په ژوندکې دومره سترې اوپریشانه شول چې خودکشي یې وکړه الله ﷻ دزمر په سورت کې فرمایي:

(اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ (۲۲)).

(ژباړه): ایا هغه څوک چې بیرته کړه الله سینه دهغه داسلام لپاره نوهغه دي په رڼادخپل رب دلوري نه نوهلاکت دی دهغوخلکو لپاره چې سخت شول زړونه دهغوی دذکردالله ﷻ نه.

همدغه شان الله ﷻ دسورت انعام کې فرمایي:

(فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ) (۱)

(ژباړه): نوچاته چې اراده وکړي الله ﷻ چې سمه لاره ورته وښایي، بیرته کوي دهغه سینه داسلام لپاره.

په دې ښه پوه شئ ای مسمانانو وروڼو! دګناه ډېره سخته سزا داده چې دانسان زړه تنګه وي اوژوند یې بې خونده کېږي همدغه وجه ده چې الله ﷻ پخپل کتاب کې فرمایي:

وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى

(۱) (سوره انعام ایت نمبر ۱۲۵).

ژباړه، چاچې اعراض وکړزما دذکرنه نويقيناً چې دهغه لپاره به وي تنګ ژوند. (۱۲۴)(۱)

شهيد سيد قطب رحمه الله په خپل کتاب کې په دې هکله يو فصيح بيان کړی، هغه داچې:

د(ضنک) کلمه په ژبه باندې دويلو ترحده اسانه ده، خونږدې ده چې په هغې سره دانسان نفس بندشي اوداځکه چې داعجيبه معنی لري اوهغه داسې ژوند دی چې دالله جل جلاله له دين نه مخ اړونکي په کې اوسيږي.

خوسره ددې هم وينو، چې همدغه دالله جل جلاله نه اعراض کوونکي خلک په فخر کوونکو مانيوکې ژوند کوي اوپه ډيرو ښايسته اواستراحت لرونکو موټروکې سورلی کوي، اواوچتو منصبونو اومقامونوته رسيدلی خوهمدغه په ظاهره اسوده اوبسيا خلک چې دالله جل جلاله نه يې داعراض منصب غوره کړی، په الله جل جلاله قسم چې هغه ټولې خوشحالی اوجنت ته ورته مانی ورته ددوزخ حيثيت لري، دغوخلکو ژوند ډير بې خونده اوبې مزې وي قسماقسم مشکلاتوسره ګيروي الله جل جلاله دزخرف سورت کې فرمايي:

وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ بِالرَّحْمٰنِ لِبُيُوْتِهِمْ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَّمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُوْنَ (۳۳) وَلِبُيُوْتِهِمْ اَبْوَابًا وَّسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔوْنَ (۳۴) وَزُخْرُفًا ۭ وَاِنْ كُلُّ ذٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ وَالْاٰخِرَةُ عِنْدَ

---

۱ (سوره طه)

رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿۳۵﴾

(ژباړه) : که چیري نه وای دغه (خطره) چې ټول خلک به سره یوشي په کفر نوګرځولي به مو وو دهغه چا لپاره چې کافران کیږي په مهربانه الله باندې دخونوچتونه دسپینوزرو اوهغه زینې هم چې پرهغو باندې پورته خیژي اودکورونولپاره دروازې به یې هم دسپینوزرو وای اوهغه تختونه هم چې پرهغوبه یې تکیه وهلی وې اودسروزرو

دښایست شیان به مي هم ورلره ورکړي و، اونه دي دغه ټول مذکوره شیان مګر ددنیا څه لږ.غوندي ګټه اوداخرت (نعمتونه اوراحتونه) ستا درب متقیانو سره دی.

راځئ ای لوستونکو اودالله لوری ته رابلونکو، ترڅو دشیخ الاسلام تقی الدین دژوند دیوه وړوکي ننداره وکړو، حافظ ابن قیم دشیخ الاسلام نه داخبره نقلوي چې هغه به ویل: زه دخپل ژوندا نه دومره خونداخلم چې وایم: که چیری جنتیان په هغه حالت کې وي چې زه یم په کې ، نویقیناً چې په پاک ژوند کې به وي.

که هغه یې زندان ته واچاوه که به یې دروازې ورپسې بندولې اویابه یې که دوژلو هڅه کېدله اوهمدارنګه دهغې داعې دوژلو لپاره تاندوهل کېدو چې امام تقی الدین ورته خلک رابلل ،اویایې که دتحریک په لاره کې خنډونه پیداکول ، اویایې ددعوت لاره بندول ،داټولې ناروا کېدلی نه یوازی دا چې څه لږ غوندي اندیښنه اودپریشانۍ څه وسوسه یې په زړه کې ور ونه ګرځیده بلکه پیره

دارته يې په داسې حال کې وکتل چې يوه شوخه مسکا يې پرشونډو وه اوورته ويې وويل:

زما دښمنان په ماڅه کولای شي؟ زماجنت اوباغ زما په سينه کې دی هرځای ته چې ځم هغه راسره دی وژل مي شهادت دی اوشړل مي تفريح ده، اوزنداني کول مي هم خلوت دی.

يوه ورځ امام تقي الدين قطروبک ته چې سلجوقي پاچاو ورغي، اوهغه داسې سړی و، چې تش په نوم مسلمان و اويوازی نسبی مسلمان و، ابن قطروبک امام تقي الدين ته وويل چې: ماداغوښتل چې ستاسره ستاپه کورکې وګورم ځکه چې ته عالم اوزاهدسړی يې اوځيني خلک وايې چې امام تقي الدين ځان په خپله ستايي:

امام تقي الدين ورته وويل: چې پرېږده داخبري ای ابن قطروبک! موسی عليه السلام به په ورځ کې څوځله فرعون ته ورته، ابن قطروبک ورته وويل: چې ای تقي الدين! ايا هغه څه صحيح دي چې خلک يې ستاپه باره کې وايې؟

شيخ الاسلام ورته وويل: چې خلک څه وايې؟

ابن قطروبک ورته وويل چې خلک وايې ته غواړې چې زموږ واکداري په خپل تصرف کې راولې. ابن قطروبک داسې ګومان کاوه چې دبادشاهۍ تخت هرڅه دي

شيخ الاسلام تقي الدين حراني ورته وويل، چې ستا بادشاهي غواړم؟ ابن قطروبک ورته وويل: چې صحيح ده امام ورته وويل چې په هغه ذات مې دی قسم وي چې زمادژوند واکدار دی چې

ستابادشاهي اوستادپلار اونيکه بادشاهي ديوې پيسې په اندازه هم ماته قيمت نه لري

خذواكل دنياكم واتركوا فوادي حراً طليقا غريبا

فاني اعظم ثرورة وان خلتموني وحيداً سليبا

(ژباړه): ټوله دنيادي ستاسو وي اوپرېږدی زما زړه ازاد په خپل اصلي حال دهرې پلیتی نه. يقيناً چې ډيره لويه اوزياته شتمني زماسره داده که څه هم مايوازی پرېږدی اوهيڅ شی هم ددنيا څخه ونه لرم.

عبدالملک بن مروان يو قدرتمن بادشاه و، دمروان دکورنۍ پورې يې تعلق درلود. اوئژدی ديرش کاله يې بادشاهي درلوده.

خوکله چې په هماغه قدرتمن بادشاه دځکندن سختی راځي نوله خپل کټ نه راکوزيږي اووايي:

کاشکی چې دخلافت ذمه واري مي پرخپله غاړه نه وای اخيستي، کاشکی چې يودوبي وای.

سعيدبن مسيب رحمه الله ته چې کله داخبره ورسېده ويې وفرمايل:

دهغه الله تعالی شکردی چې هغوی يې دمرګ په وخت کې زموږ لوري ته راوګرځول اوموږ دهغوی لوري ته پناه نه وروړو.

ابراهيم بن ادهم رحمه الله به وويل، چې:

(نحن في عيش لو علم به الملوک لجالدونا عليه بالسيوف).

(ژباړه): موږ په داسې عيش کې ژوندکوو چې که په هغه باندې بادشاهان پوه شي دهغه دحاصلولوپه خاطر به زموږسره په توره مقابله وکړي

مړول هغه کوم قسم ژوندون دی؟ ایا هغه ځان غښول اوخېته مړول دي؟ایاهغه عیش عشرت دښایسته اوارام ده موټرو اوسورلیو اویا دالوتکو سفر دی؟ اویاهغه عیش دښکلو کالیو اغوستل دي؟ نه په الله ﷻ قسم چې هغه عیش داسې نه دی اوهغه عیش دداسې څېزونو دژوند متاع ده چې هرچاته میسره ده. بلکه په داسې څیزونو کې دکافرانو برخه دمسلمانانونه زیاته ده، ډېر داسې مسلمانان وینوچې په یوه شکیدلی خیمه کې ژوندکوي اوپه پوزې څملي، اویوه نوړی ډوډی په اسانۍ ورته نه رسیږي اودهغه په خلاف وینوچې کافران دنخرواونعمت په بستروکې مستي کوي اوپه اوچتو اوچتواوپه فخر کوونکو مانیوکې ژوندتېروي، اوقسما قسم خوراکونوسره مستي کوي، الله ﷻ دسورت حجر په دریم نمبر ایت کې فرمایي:

ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ۝٣ [1]

(ژباړه) : پرېږدئ دوی چې خوري، څښي اوعیش کوي اومصروف کړی یې دي اوردارزوګانو،ژرده چې پوه به شي (په خپل انجام باندې).

دمحمدپه سورت کې داسې فرمایي:

(وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ).[2]

(ژباړه) : اوهغه خلک چې کافران دي داسې خوراک خوري اوداسې عیش کوي لکه چې ځناور،ددوی داوسیدو ځای دوزخ دی.

---

[1] (سوره حجر).

[2] (سورت محمد).

دهغوبرعکس دايمان ژونددی چې دهميشه لپاره دی، اوهغه داسې ژونددی چې په سجدواوتسبيح پورې تړلی دی، هغه داسې ژونددی چې توبه پکې خپله وظيفه ګرځول شوی ده، اوهغه داسې ژونددی چې په هغه کې استغفارويل کيږي.

هغه منظرچې په مابانـدې ډيرتـاثيرکوي اوزه پـه حيرانتيـاکې راځم، اودلوی خدای نه دځان اوتاسولپاره درشد اوهدايت سوال کوم، هغه دهغوزلميانو ژونددی چې دکفاروپه ښارونوکې دتقوا ژوند تېروي، تردې چې دسنتوپه جزئياتوباندې عمل کوي،په داسې حال کې چې هغه داسې هيوادونه دي دهري خوانه دبې حيايۍ دروازې پـه کې بيرته دي، اوهيڅ کوم ځاي ددداسې بې حيايۍ نه پاک نه دی، پـه داسې سمه لاره باندې ټينګ پاتي کيدل اوهغه هم پـه داسې لعينو ځايونوکې بې دالله تعالی دکومک نـه پـه بلـه طريقـه ممکـن نـه دي اودهغو ځوانانونسره دالله ﷻ کومک اونصرت شامل حال دی، چې پـه داسې بې حياچاپيريال کې هغوی دهرقسم ګناه نه محفوظ دي.

زموږدملګرودجملې څخه ديوځوان په هکله خبره کوله، چې پـه لندن کې په تعليم بانـدې لګيـاو اوهغـه داسې دشرافت نـه ډک ژونـد تيراوه، زه دداسې خبرو اوقيصو تصديق ځکـه کوم چې دهغـه ځوان روزنه دتوحيد پـه کلمه باندې شوې وه اوايمان يې پـه زړه کې مضبوط ځاي نيولی و اودتوحيد کلمه چې ديوې ګڼې اودنګې ونې پـه څيـرده، چې ريښې يې پـه ځمکـه کې دي اوڅانګې يې پـه اسمان کې دي، هيڅکله هم نه پريږدي چې يومسلمان دي په بې لاريو سرشي اوکلـه

وسوسه پیداشي ایمان یې چې په زړه کې دکوم نارواکارلپارځه وسوسه پیداشي ایمان یې یې چې په زړه کې دکوم ناروا... اوکه چیري وغواړي چې سندري واوري دهغې لاري نه خوندي ساتي اوکه چیري وغواړي چې سندري واوري اودګډا په مجلسونوکې شریک شي نوبیایې هم ایمان دداسې عمل نه بچ کوي، اوکه دمیوو اوشرابوپیاله ورته وړاندي کېږي، ایمان یې دلاس وراوړدولونه منع کوي.ځکه چې دداسې ځوانانو روزنه په بدیو اومنکراتو باندې نه ده شوې چې دداسې بدیودارتکاب لپاره زړه ښه کړي، هغه قیصه داسې ده، هغه مؤمن ځوان هلته ولاړه اویوې انګریزی کورنۍ سره میشت شو،هغوی هغه یوې کوټې ته دننه کړ، نوموړي هلته په هماغه سختوسړوشپواوورځوکې دسهار لمونځ اداکاوه، وختي به پاڅېداودس به یې کاوه یوې زړې نصرانی ښځې چې زړه یې تک تور و، ورته وویل: ته ولي دا لمونځ وروسته چې هواګرمه شي نه یې اداکوي؟ یعني تاخیرنه کوی؟

هغه زده کوونکي په ځواب کې ورته وویل چې زما دین ماته حکم کوي چې په همدې وخت کې باید لمونځ اداکړم.

انګرېزي ښځي ورته وویل: چې که دي لږوروسته کړی وای، چې یخني لږکمه وي ښه به وای.

هغه زده کوونکي ورته وویل: چې که یې وروسته کړم بیازمارب هغه لمونځ له مانه نه قبلوي هغې ښځې خپل سروښوراوه اوویې ویل: داهماغه اراده ده چې اوسپنې اوبه کوي.

هو! په الله تعالی قسم چې همدغه کلکه عقیده ده چې فولاد ویلي کوي اوډېرلوی غرونه رانړوي، همدغه ایماني مرسته دکفر په

کلی کې دڅوانانو ترټولو تاثیرناکه اوغښتلي وسله ده، چې باید خپل ځانونه دمنکراتو دحملې نه په حمایت کړي.

لیکن داخویو ورکوټې نمونه وه، چې دخپلې مدعا دثبوت لپاره مې ددلیل په توګه وړاندي کړه اوکه نه نوتاسي چې ماشاء الله زمانه ښه پوهیږي په هروخت بالخصوص په داسې ګنده چاپیریال کې بې دایماني قوت نه بل هیڅ شی هم انسان نه شي ډاډه کولای، (دیل کارنګي) چې د اضطراب پرپرده اوژوند پیل کړه) کتاب مصنف دی بیلابیلې پوښتني یې داضطراب په هکله دځانه مطرح کړی دي، مثلاً داسې پوښتنه په خپل کتاب کې عنوانوي: څنګه نیک بختي ته ورسیږو؟

اویاداسې عنوان قایموي: اندیښني څنګه لرې کړو؟ اویاوایې چې په غم اودرد باندې څنګه بری ترلاسه کړو؟ ولی (دیل کارنګي) هیڅ قسم موفقیت په دې هکله نه دی ترلاسه کړی اونه یې دحل کومه معقوله اوپه زړه پورې لاره په ګوته کړې اونه یې کوم داسې څه ویلی چې دهغه په عمل کولو ربښتیا هم خلک دتشویش نه خلاصون وموميٰ اونه نوموړی دحقیقت عمق ته رسېدلی. دایمان نه مخ اړوونکي ډیرخلک داسې لیدل شوي چې په پرېشانی کې داسې مرحلې ته رسېدلی چې اخر دهغونه دخلاصون په غرض په خودکشی لاس پورې کړي، ځکه چې نه دی توانیدلی چې په خپلو داخلی کړاونو اوپریشانیوباندې قابو پیداکړي، اودداسې خلکو په هکله چې خپل ځانونه یې نفس اوهواته حواله کړي اوپرسمه لاره تلل نه خوښوي، الله تعالی فرمایې:

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٧٩﴾ (١)

(ژباړه) : اوپیداکړي مې دي د دوزخ لپاره ډېر دپیریانو اوانسانانو څخه هغوی زړونه لري خو وربانديې پوهيږي نه، هغوی سترګې لري خو وربانديې ويني نه، هغوی غوږونه لري خو وربانديې اوري نه، لکه څناور داسې دي، بلکه دهغونه لارورکه ده بياهم دي غافله.

په فرقان سورت کې الله تعالی فرمايي:

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ (٢)

(ژباړه) : اياداسې ګومان کوې چې زياتره دهغوی اوري اوپوهيږي، نه دي دوی مګر لکه څناور داسې دي بلکه دڅناورو نه هم زيات بې لاره دي.

## دګناه دوهمه اغيزه (تاثير)

ګناهونه انسان دروزۍ له قحطۍ سره مخامخ کوي اودروزۍ قحطۍ په دوه قسمه ده؟

---

١ (سوره اعراف).

٢ (سوره فرقان).

لومړۍ: بیخي دروزۍ قحط راتلل.

دوهم دبرکت دلحاظه بې برکته کېدل.

دبې برخې کېدلو ځیني صورتونه داسې دي چې انسان په ژوند کې دسخت فق سره مخامخ کېږي. الله ﷻ چې روزي ورکونکی دی دروزۍ ټولې دروازې یې پرمخ بندوي لکه چې دابن عباس رضي الله عنه نه په صحیح سندسره روایت دی چې هغه و فرمایل:

(ان الحسنة نوراً فی الوجه اوبیاضاً فی الوجه ونوراً فی القلب وسعة فی الرزق ومحبة فی قلوب الخلق وان للسیئة سواداً فی الوجه وظلمة فی القلب وضیقاً فی الرزق وبغضاً فی قلوب الخلق).

(ژباړه): یقیناً چې نیکي په مخ کې نورپیداکوي اوپه روزي کې پراخي پیداکوي اودخلکو په زړونوکې مینه پیداکوي اوګناهونه په مخ کې دتوروالي سبب کېږي اوپه زړه کې تیاره راولي اودروزۍ دتنګۍ سبب ګرځي اودخلکو په زړونوکې دبغض سبب ګرځي.

ځیني عالمان وایې چې نعمت (دنون په زور) سره هغه دی چې په هغه کې ځاروي اوهرډول حیوانات اوانسانان سره شریک دي اونعمت (دنون په زیر)سره هغه دی چې دهغې په واسطه دالله ﷻ داطاعت توفیق انسان ته ورپه برخه کېږي.

ځیني خلک داسې وي چې دنعمت اوهوسایني په وخت کې بې لارې کېږي، دنعمت شکرنه پرځای کوي اوهغه دالله تعالی په لاره کې نه خرځ کوي، بیشکه د روزۍ اوفقر یوازې دالله تعالی په قدرت کې دي.

امام تقی الدین وایې چې ابوالقاسم مغربي زماڅخه پوښتنه وکړه

چې ماته یوداسې عمل راوښایه چې دالله ﷻ طرف ته مې لاربښوونه وکړي اوهغه الله ﷻ ته مې ورنژدې کړي اوپه احادیثوکې داسې کتاب راوښایه چې له قران کریم نه وروسته وربانديې باور وکړم اوهم داراته ووایه چې دروزۍ دغوښتلو لپاره کومه لاره غوره ده؟

امام تقي الدين حراني په ځواب کې ورته وويل چې:

(افضل السبل فی طلب الرزق الاتکال علی الواحد الاحد وتفویض الامرالیه).

(ژباړه): دروزۍ په لټولوکې ډېره غوره لاره یوازې په الله ﷻ بانديې توکل کول دي اوخپل کار هغه ذات ته سپارل دي.

څه موجز اوبامعنی ځواب ورکوي شیخ الاسلام رحمه الله هغه پوښتنې کوونکي ته دروزۍ دغوښتلو په هکله، روزي نه ورکوي مګرالله ﷻ اومخلوقاتوته روزۍ نه ورکوي مګرالله ﷻ خوپه رزق باید هغه رزق مدنظروي چې دهغه په واسطه دخدای اطاعت کیږي.

په دې کې هیڅ شک نشته ای زمادایمان اوعقیدې ورونوچې دروزۍ دکمښت سره انسان هغه وخت مخامخ کیږي چې په ګناه اوسرکشی کې ژوندتېروي، الله ﷻ داعراف په سورت کې فرمايي:

(وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ)[1]

(ژباړه): که دکلیواوبانډوخلکوایمان راوړی وای اوتقوا یې غوره کړې وای نوورته بیرته کړې به مو وای دبرکتونودروازې داسمان.

---

[1] (سوره اعراف ۹۶ایت).

خوداچې هغوی ایمان رانه وړ اولاره یې پیدانه کړه نوځکه دبرکتونو دروازې دهغوی پرمخ بندې شوې اودخیراوبرکت نه بې برخې پاتې شول.

دهمدې دلیل په بناهیڅ عزت نشته په ډیرښت دمال کې اونه څه خیرشته په دې اصل کې ترڅو چې انسان دالله بندګۍ ته ونه هڅوي اوپه هغه کې یې مصروف نه کړي.

## دګناه دریمه اغیزه (تاثیر)

دګناهونو دریم منفی اثر دادی چې انسان دعلم دکمښت اوهیریدنی سره مخامخ کیږي ډیر اوربدل کیږي چې وایو ولي هیروالی اونسیان راباندې غالب دی؟ ولي خطا کیږو؟ اوولی کره معلومات نه لرو؟

ددغوټولو پوښتنوځواب دوه سببونه دي.

لومړی سبب: یاخوداچې فطرتاً همداسې پیداشوي یوچې ذهنیت راکي نه دی پیداشوی اویاداچې دتقوا په افلاس (کمښت) مبتلایو.

فیلسوف راوندي چې لکه دابن سیناپشان اسلام ته منسوب دی اوپه مسلمانانوکې شمیرل کیږي دالله ﷻ په حکم نیوکه کوي، امام ذهبي رحمه الله دهغه په هکله وایې: چې ابن راوندي هغه جنګي سپی دی چې خدای ﷻ ورته ذهنیت ورکړی خو(پاک) نه و.

امام ذهبي رحمه الله ددې په تشریح کې وایې چې: لوی خدای ﷻ کفردذهنیت په واسطه ملعون کړی اوالله ﷻ ژوندي کړي دي

ښارونه دتقواپه واسطه.

ابن راوندي ډيرغريب اوبيوزله سړی و، يوه نوبت وږی وچه ډوډۍ به يې ورسره واخيسته اودجلې دنهر پرغاړه به ناست و، يوه ورځ په همداسې حالت کې هلته ناست و اوهغه وچه ډوډۍ يې خوړله اويوغلام يې دځنګ سره تېرېدوچې اسونه، قچري، غواګانې، غوايان اوميږې يې پوولې.

ابن راوندي دهغه غلام نه پوښتنه وکړه چې دغه څاروی دچادی؟

غلام په ځواب کې ورتـه وويـل: چې دفلانـي سـړي دی ابـن راوندي چې کلـه دهغـه سـړي نـوم واورېـدو ويـې ويـل: سبحان الله. اواسمان ته يې مخ کړ اوويې ويل: چې ته فلاني غبي سړي ته داسې اوداسې مال ورکوي اوماهمداسې پرېږدې په داسې حال کې چې زه دنړۍ دا اذکياوونه يم؟ بيايې وويل چې داظالمانه وېش دی اوبيايې ډوډۍ ويالې ته وغورځوله داصريح اوښکاره کفردی.

حافظ ابن حجرپه لسان الميزان کې دهغه (ابن راوندي) يادونه کړې اوپرهغه يې لعنت ويلی، اوليکلی يې دي چې هغه مې ځکه ذکر کړ، چې ورباندې لعنت ووايم.

دغه خبره حافظ ابن کثير دخپل مشهور کتاب (البداية والنهاية) په دولسم ټوک او (۱۲۰) مخ کې رانقل کړی ده (ذهنيت دتل لپاره دتقوا سره تکراونه وي)، موږځيني داسې عالمان پېژنوچې دنصوصو دمحاضرې دلحاظه يې ذهن ښه کارنه کوي اويادمسايلو په تخريج نه پوهيږي په داسې حال کې دالله ډيرغوره بندګان اوسترفقهادي اوپه شرعی علوموپسې منډی وهي ، تردې چې داسلامي تاريخ

ډیرواتلوشخصیتونو احادیث نه شوای یاده ولی خودتقوا په زیور کاملاً ښایسته وو اوداِلهي قرب کې یې اوچت مقام درلود.

دوهم سبب: هغه دی چې دزړه سختوالی دی:

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً ۖ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ

په سبب دهغه څه چې ماتې یې کړې ژمني خپلی لعنت موو کړ پرهغوباندې اوسخت موکړل زړونه دهغوی، بدلوي خبري د خپلو ځایونونه.

که چیري دالله جل جلاله نه وویرېږی اوتقوا دخپل ژوندشعار وګرځوی نوالله جل جلاله به ګټورعلم درکړي، اوددې عکس چې دچاپه زړه کې دالله نه وېره نه وي نوالله جل جلاله داسې غافلوخلکوته علم نه ورکوي، ګناهونه ډیربدتاثیر لري دعلم دحصول په هکله ابن جلاد وایې، چې ماد یوه داسې منظرننداره وکړه چې لیدل یې راته روانه و، دالله نیکانوبندګانوڅخه یوه تن راته وویل، چې ایاحراموته ګورې؟ په الله جل جلاله قسم چې ددې دکتوسزابه خامخاووینې که څه هم څه وخت وروسته وي (دڅه مودې ترتیریدووروسته) هغه څه مې چې دقران عظیم الشان نه حفظ کړي وو رانه هیرشول دغه جریان امام ابن تیمیه قیصه کړی خودابن جلاد نوم یې نه دی یادکړي اوذهبی هغه ذکرکړی.

همدغه شان دوکیع رحمه الله واقعه ذکرکوی، اوته څه پوهیږي چې وکیع څوک و؟دحدیثویوه ځانګړې مدرسه وه، وکیع بن جراح چې شیخ الاسلام، حافظ اوامیرالمؤمنین فی الحدیث و اودالله نه سخته

خشوع يې په زړه کې موجوده وه، اوامام احمدذهغه دعاجزي په هکله وايې چې مادوکيع نه زيات خاشع سړی نه وه ليدلی هغه داسې حالت درلود، چې که به دالله نوم يادشو داوښکوسېلابونه به يې دستر ګونه بهيدل او دومره به يې وژړل چې بېره به يې په اوښکولمده شوه، وکيع د( رسول کريم ﷺ دسيرت اوسنتوبشپړه نمونه وه.

هغه( وکيع) رحمه الله ته يوسړی راغی اوويل کېږي چې هغه سړی امام شافعي و، اوځيني نورعالمان وايي چې کوم بل سړی و، ورته ويل: ای وکيع! طبيبان وايي چې مميزدحافظې لپاره ډېرګټوردی.

دامام زهری نه پوښتنه وشوه، چې دحديثودحفظ لپاره څه شی ډيرګټور دی؟ پوښتونکي ته يې وويل چې دمميزوخوړل ګټور دي، اوځيني کسان بطاطس (کچالو) تجويزوي، اوځيني دبانجانو دخوړولونه منع کوي، لکه ابن قيم به دبانجانو دخوړلونه ډده کوله، اوويل به يې چې دبانجانودخوړلونه پرهيزوکړی ځکه چې هغه ښه نه دی خوموږوايو چې موږخوداسې يو چې که بانجان وخورو اوکه يې ونه خورو حافظه موچندان ښه نه ده بهرحال راګرځواصل مطلب ته، هغه داچې يوعالم امام وکيع ته وايې: ډيره مجربه دوا دحافظې دښه کولولپاره څه ده؟

امام وکيع ورته وويل: چې په الله قسم چې ماډيره مؤثره اومجربه دوا دحافظې اوپياوړتيا لپاره دګناهونودپرېښودلونه بله نه ده ليدلی په الله قسم چې هيڅ شی هم دحافظې لپاره دومره ګټور نه دی لکه چې دګناهونوپريښودل چې ورته ګټه رسوي.

ځومره ښه ویلی هغه سړي:

شکوت الی وکیع سوء حفظي فاردني الی ترک المعاصی
وقال اعلم بان العلم نور ونورالله لایؤتی لعاصی

(ژباړه): ماوکیع ته دخپلي حافظې دکمزورۍ اوخرابۍ نه شکایت وکړ اوهغه راته دګناهونو دپرېښودلو لارښودنه وکړه. اوراته یې وویل چې په دې ښه پوه شو چې علم نوردی اودالله نور ګنهګارته نه ورکول کیږي.

امام مالک امام احمدبن ادریس شافعی ته وویل چې: ای محمده! زه په تاکې دنجات نښې وینم، اوزه ستالپاره په دې امت کې دامامت فکرلرم، نوبناء دګناهونه په کلکه ډډه وکړه ځکه چې ګناهونه علوم ختموی.

الله ﷻ دسورت مائدې په (۱۱۳) نمبر ایت کې فرمایي:

وَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ (۱)

(ژباړه): هېره یې کړه برخه خپله دهغه څه نه چې ورته یادوه.

اما تقی الدین وایې: هیره په معنی اوالفاظوپه دواړوکې واقع کیږي، اودهغه سبب په علم باندې عمل نه کول دي، همدغه دلیل دی، چې الله ﷻ دبني اسرائیلوپه هکله فرمایي:

كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا (۲)

(ژباړه): دهغومثال دخره دی چې کتابونه ورباندې باروي.

---

۱ (سورة مائده ایت ۱۱۳).

۲ (سورة الجمعة ۵ ایت نمبر).

دخره په شاکه فتح الباري وي اوياریاض الصالحین اویابلوغ المرام اویاهم لرګي وي هیڅ توپیر ورته نه لري، ځکه چې هغه خردی، کاري یوازي دوړلو سره دی نه دپوهېدلوسره.

ډیربددی دهغوخلکومثال چې کافران کېږي.

همدغه شان په سورة اعراف کې فرمايي:

(وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِىٓ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿١٧٥﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ). (١)

(ژباړه: اودوې ته هغه خبرې ولوله چې موږ خپل ایتونه ورته بیان کړي وه خودوی مخ ترې واړوه بیاپه ده پسې شیطان شو نودغه سړی دګمراهانوځخه شو اوکه موږغوښتي وای نوددغوایتونوپه وسیله به مولوړکړی وای خودوی زمکې ته راکښته شو اودخپلو غوښتنوتابع شوددوی مثال دسپي غوندې شوچې که ته پرې حمله وکړی هم ژبه ځوړنده وي اوکه یې پرېږدې هم ژبه ځوړنده وي دادهغه قوم مثال دی چې زموږ ایتونه یې دروغ ګڼل

پوهان وايي دادسپي خوی دی چې په ګرمی کې یې ژبه دخولی نه راویستلی وي اوپه زوره زوره اوډیر زر زر ستمېږي اوکه سیوري

---

(١) (سورة اعراف ایت ١٧٥/ ١٧٦).

ته ننوزي هم ژبه يې راويستلې وي اوستمبړي ، يعنې په هيڅ حالت کې يې قرارنه وي اوځه بدلون يې په وضع کې نه راځي اوپه هرحال کې يوشان وي.

همداسې دمثال په ډول دهغه خبيث اومفسدفي الارض انسان چې دعلم نه څه ګټه نه شي اخيستلای، اونه علم ورته دتقو ذريعه ثابتيږي اونه علم ورته دالله ﷻ درضا دحصول سبب کېږي ، دهمدې ملحوظاتو دپه نظر کې نيولوسره وچې خطيب بغدادي په دې هکله يوځانګړي کتاب د(اقتضاء العلم العمل) په نوم تاليف کړ ، يعني دعلم نتيجه اوثمره عمل دی (هغه علم چې عمل په څنګ کې ونه لري هيڅ ارزښت هم نه لري) خليل بن احمد فراهيدی دنړۍ داذکياوو نه يوتن و ، تردې چې وايې خپل ذکاوت وواژه ، نوموړی به دحساب په اړه فکر کاوه اوويل به يې چې زه غواړم داسې حساب جوړ کړم چې که کومه مينځه بنجارګر اوبقال ته ورځي اوځه ورځيني اخلي چې دوکه يې نه شي کړای، اوظلم ورسره ونه کړی شي، په همدې حالت کې يې چې په فکر کولو پيل وکړ اوسترګې يې پټې کړې داجل داعي ورته راحاضر شو اوهغه دجومات ستنی ته وربيرنی شو اوورسره مخامخ ولګيد اوهلته يې دفاني جهان څخه سترګې پټې کړې (اوغلطي هم دده خپله وه نه دهغې ستنی) الله دې پرهغه لوړهمته انسان رحم وکړي. خطيب بغدادی په خپل ضخيم کتاب (تاريخ بغداد) کې دخليل بن احمد يادونه په دې ټکوکې کوي چې هغه په خوب کې .کوم سړی وليد چې ورته وايې :

الله جل جلاله څه معامله درسره وکړه؟

په خواب کې يې ورته وويل چې زماهغه عربي علوم علم عروض موليدلی ؟ ورته وې ويل: هو ( خليل ) ورته وويل چې زه ددنياپه داسې حال کې ولاړم چې دهغونه هيڅ کوم څيز راته څه ګټه ونه کړه، مګر هغودوه رکعته لمانځه چې دسهار به مي کول، اوخليل هغه سړی دی چې دعربوپه تاريخ کې يې دعلم عروض بنسټ ايښی.

همدغه شان حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه هغه لوی شخصيت و، چې احاديث ډېرکم ورنه روايت شوي، اوهم حضرت معاذ رضي الله عنه لوی انسان و، چې دروايت شوواحاديثوشمېر يې ډېرکم دی خودکم شميرحديثونو دروايت په دې معنی نه دی چې هغوی په اسلامی علومو کې څه زياته ونډه نه درلوده ( درواياتودکمښت سره سره هغوی مجسم اوخوځند قران وو چې دمځکي پرمخ ګرځيدل، نوالله دي دهغوی اونورو ټولو اصحابونه راضي شي، اودهغه چانه هم چې دهغوی نه په ښه طريقه متابعت کوي دقيامت ترورځي پورې.

هغوی دلوړو درجواومرتبو خاوندان خلک وو، دګناهونونه بېخي ګوښه ګرځيدل، حق اومعرفت يې ديقين په سترګو ليدل، نو موږ هم که غواړوچې حق دحق په سترګووينو نوبايد چې دګناهونونه ليری وتښتو.

# دګناه څلورمه اغیزه ( تاثیر)

## دخلکوپه زړونوکې کینه اوبغض

محبت دالله له طرفه داوواسمانونو دپاسه نه رانازلیږي، محبت هغه څیزدی چې هغه نه څوک جوړولای شي اونه یې څوک چاته ورکولای شي.

کېدای شي څیني خلک دچاسره لباسی محبت اومینه وښایي، اوکله کله خلک دقدرت دوړې هم دکوم چاسره محبت کوي، اوداچې هغه دلښکرواودپیسوڅښتن وي نوخلک په ښکاره کې هغه ته دخپلې لباسي میني اظهارکوي.

لیکن دغه ټول دمحبت ذریعی نه دي اونه دمحبت دحاصلولو لاري دي هغه محبت چې رښتیا هم ورته محبت ویل کېږي هغه داسې محبت دی چې هرچا ته الله ﷻ وغواړي ورکوي یې اوهرچاته چې الله ﷻ اراده وکړي دعاموخلکومقبولیت نه یې برخه مندکوي.

امام بخاري رحمه الله د( المقت من الله) په باب کې په دې په باره کې بحث کوي، اوبیاوروسته دهغه نه یوحدیث روایت کوي:

اذا احب الله العبد قال لجبریل انی احب فلاناً فیحبه جبریل ثم ینادی فی اهل السماء.ان یحب فلاناً فاحبوه فیحبوه ثم یوضع له القبول فی الارض، واذا ابغض الله احداً قال لجبریل انی ابغض فلاناً فیبغضه جبریل ویقول للملائکة ان الله یبغض فلاناً فابغضوه،ثم یوضع له

البغض فی الارض.[1]

(په ځینو روایاتونوکې ددې حدیث په سندکې څه خبره شته)

مګرمعنی یې داده: کله چې الله دکوم بنده سره مینه کوي جبرائیل ته وایې چې زه فلانی خوښوم نوجبریل هم مینه ورسره کوي بیاداسمان په ملایکو کې غږ وکړي چې الله فلانی خوښوی، تاسي هم ورسره مینه وکړي هماغه وي چې هغوی هم ورسره مینه کوي، بیادمقبولیت زمینه په ځمکه کې ورته برابره کړي اوکه کوم بنده دالله بدایشي نوجبرائیل ورسره بغض کوي اوملائکوته وایې چې دالله تعالی فلانی سړی بدایشی نوتاسي یې هم بدوایشوی. بیاپه ځمکه کې دهغه لپاره دبغض زمینه برابره وي.

یقیناً چې ځیني خلک داسې نیکبخته وي چې دهغوی مینه اوعامه مقبولیت خلکوته په یخواوبوکې ورڅښبل کېږي اوځیني کسان داسې بدبخته وي چې دهغوی سره کرکه اوکینه خلکوته په یخواوبوکې ورڅښبله کېږي.

دهمدې ملاحظاتوپه نظرکې نیولو سره وایو چې محبت تش په پیسو اونقالیو نه شي حاصلېدای، بلکه محبت هغه متاع ده چې یومسلمان بنده یې دالله وحده لاشریک نه غواړي، اوهغه پوهېږي چې که دالله جل جلاله په دین قایم اوثابت پاتی شي نوالله تعالی دخلکوپه مینځ کې هغه مقبول اومحبوب ګرځوي په خبرواوعمل کې یې ارزښت اچوي اوزړونه دده پرخوا راماتوي.

---

[1]: فتح الباري: ۱/ ۴۶۱.

ابن جوزی په (صیدالخاطر) نومی کتاب کې وایې، چې ماداسې خلک لیدلی چې په خپلوخبروکې تکلیف کوي، اوپه تګ راتګ سره له تصنع نه کاراخلی ډیرلمونځونه کوي، خپل وخت په چپتیا تېروي اوډیري ورځي روژه نیسی. خوسره ددې هم زړونه ترې نه بېزاروي اوځینی نورخلک مې داسې هم لیدلي چې ډېربې تکلیفه ژوندلري. خوش طبعي اوټوکي ټکالي کوي، اودخلکو سره په ډېر تماس کې وي اوناسته ولاړه ورسره لري، خوسره ددې ټولودخلکوزړونه دهغوی خواماته مایل اوراغب وي اوخلک يې په شاوخواکې ټولېږي، دهمدې ځایه پوه شوم چې اصل په کارونوکې پټوالی دنیتونودی چې دخلکودسترګونه الوینه دی خوهماغه نیتونه الله ﷻ ته عیان دي.

هو! دروغ نیت په ذریعه انسان دانسانانوپه مینځ کې لوړه مرتبه ګڼلای شي اویادخلکوپه نظرکې دبدنیت په وجه سپکېږي، دهغه څه چې ومې ویل مقصدیې داوچې:

که چیری کوم انسان پوه شي چې فلانی عمل اوفلانی خبره ناوړه ده خوسره ددې يې هم دخلکو په مینځ کې خپروي، دهمدې انسان همدغه عمل په خلکوکې دنفرت اوکرکي سبب کېږي، همدغه ناوړه عمل ته دکرکي په سترګه کتل کېږي، اوهمدغه ناوړه عمل دکرکي موجبات اواسباب ورته برابروي، اوپه دوستانواوخپلوانوکې ورته دکرکي په سترګه کتل کېږي.

همدغه وجه وه چې حضرت عثمان رضي الله عنه فرمایي:

هرڅادرچې دالله نه غواړي الله به هماغه څادر ورواغونده وي.

ډیرداسې خلک پیژنوچې غواړي خلک دهغوی سره مینه ولري اوداسې وجاهت پیداکړي چې دخلکو سترګې ورواړوي، اودی هدف ته درسیدولپاره هره ممکنه وسیله په کاراچوي، خوسره ددې ټولو زړونه ورنه کرکه لري.

اوڅنګه چې یې له ورنژدې کیدلوډډه کوي همدغه شان داسې خلک پیژنوچې هیڅ نه غواړي چې خلک دي ورسره مینه وکړي اویادي یې ستاینه وکړي خوسره ددې هم زړونه ورته میلان پیداکوي او ورسره ناسته ولاړه لري. هغه وخت چې سیبویه خپل استاذ خلیل بن احمدته ورغی استاذیې ورته وویل چې ښه راغلی هغه سړی چې نه ستړي کیدونکی دی.

په دې پوه شو چې محبت دالله ﷻ دخوانه دی الله ﷻ یې په زړونوکې اچوي اوالله ﷻ یې دخلکودزړونوڅخه باسي، په هره اندازه چې اخلاص دالله ﷻ سره پوره وي په هماغه اندازه دخلکو زړونوته ورنژدې کیږي اوپه سترګوخوږ لګیږي، هرڅومره چې زړه داخلاص نه تش وي نو په هماغه اندازه انسان دخلکوپه نظرکې کم ګرځي.

حضرت ابودرداء رضي الله عنه وایې چې: که دالله ﷻ یوفرمانبرداربنده دخپل رب اطاعت داوو دروازو دننه کوي نوهم الله به یې اثرات خلکوته څرګند کړي اوکه داوو دروازودننه دخدای نه سرکشی کوي نوهم به یې الله دهغه سرغړونې اثرات خلکوته څرګند کړي.

اوداڅه پټه خبره نه ده بلکه هرانسان پوهیږي په دې باندې چې دډیروخلکوګناهونه نوروخلکوته څرګندیږي، ډیر داسې خلک دی

چې په پټه کې ګناهونه کوي اوهیڅوک پرې خبرنه دي تردې چې مور اوپلارېې هم په هغوګناهونونه وي خبر، چې زوی یې کوي، خو دوالدینو زړونه اوداولادښکاره نښې موراوپلارته داورښايي چې دهغوی زوی دګناهونو ارتکاب کوي اوپه بدوافعالوګرفتار کېږي.

## دګناه پنځمه اغیزه (تاثیر)

## دبنده اوداالله جل جلاله په مینځ کې جدايي

بېلتون څه عجیب اوغریب شی دی، څه عجیبه اسرارمکنونات لري، بېلتون انسان ته په همدې ویاړمنه نړۍ کې پېښېږي، که څه هم ځینی خلک په ظاهره ډېر تازه اوهوسامعلومېږي، حقیقي نیکبختي اونعمت په مال او اولاد کې نه دی بلکه ډیرداسې خلک شته چې سره دډېرمال اودولته ډېرپرېشانه وي.

په ګناه کې اخته کسان دهمېشه لپاره ویرجن وي، لکه چې ابن قیم رحمه الله وايي: یوپه ګناه اخته انسان که دباددډېره نرمه وږمه هم اوري هغه ورته دتندر حثیثت پیداکوي چې په هغه باندې رانازلیږي. لکه چې الله تعالی فرمايي:

يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ [1]

(ژباړه): هر اواز دخپل ځان پرضد بولي.

اوداسې په وحشت او وېره کې ژوندتېرول دګنهګار انسان دخپلې ګناه نتیجه ده، ددروازې داوازنه په وېره کې وي اوکه کوم سړی یې

[1] (سورة المنافقون ایت ٤).

خواته ورتږدي کېږي دهغه نه په ويره کې وي.

دهمداسې مضطربانه کيفيت په متعلق ويل شوي چې که ته داجابت اوقبول طريقې چې ستااوستادرب په مينځ کې دی ترېښولاندې کوي نوبيا څنګه دايماني حلاوت اوراحت اوقلبي اطمينان ارزوکوې.

ابومعاذ رازي ته وويل شول چې ايا په ګناه کې اخته انسان اوياهغه څوک چې دګناه اراده يې کړې وي، داطاعت نه ګټه اخيستلای شي؟ هغه ورته وويل: چې نه په الله قسم چې هيڅکله به هم داسې نه وي، په داسې حال کې چې يوازې دګناه اراده يې کړې وي اوهغه يې ترسره کړې هم نه وي يعنې په يوازې اراده هم داطاعت دخوندنه بې برخې دی.

ترهغه پورې چې دهغه ناوړه عمل نه يې لاس نه وي اخيستی، نه يوازې داچې نه ترينه خوند اخيستی شي، بلکه په دايمي اضطراب کې وی اودوحشت څه ډيری علامې اونښانې لري، دهغې جملې نه څه دادی چې ځيني خلک دالله تعالی درحمت اووعدوپه ايتونوباور نه لري، دهمدې وجې نه په قران کې داسې تېرېږي لکه چې درحمت ايتونه بلکل (عياذبالله) قراني ايتونه نه وي، په داسې حال کې چې موږته جداً امرشوی چې په الله باندې به حسن ظن لرو اوپه الله باندې دنيکۍ ګومان کول دغوره عملونو څخه دی اودوحشت داثارونه يودادی چې دالله تعالی سره يې تعلق شکولی، اوداهم ويل شوي چې دوحشت داسبابو څخه يوسبب هم دنفاق مسئله ده.

دفسادپه دې دورکې څه خلک په ظاهره خوشحاله ښکاري، خودننه بيخي زاړه وي، داسلام ځيني پوهان ويلی چې زړه شل وي دغيظ نه شروع کيږي اوپه بنديدواخرته رسيږي الله ﷻ فرمايي:

بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ (١)

(ژباړه): بلکه مهرلګولی دی الله په زړونودهغوی باندې په سبب دکفر دهغوی.

همدارنګه په سورت محمد کې فرمايي:

اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾

(ژباړه): اياهغوی په قران کريم کې غورنه کوي ياداچې زړونوته يې قلپونه لګيدلی دي دزړه مرګ هغه دی چې احساس په کې ورک شي.

شهيد سيدقطب رحمه الله ددې ايت په تفسيرکې وايي:

وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٣٥﴾ (٢)

(ژباړه): هغه کسان چې کله دبې حيايۍ کارکوي اوياظلم کوي خپلوځانونوباندې يادکړي الله نوبښنه وغواړي دخپلوګناهونولپاره.

داخبره دامعنی لري چې يقيناً چې دويني اوغوښې درنښت کيږي دې ته چې احساس اوشعور مړاوي کيږي اوفطرت هم خيرن کيږي اوپه ګناه اخته کيږی خو فطرت اواحساس اوشعوررابيداريږي نوالله

---

١ (سورة النساء ايت ١٥٥).

٢ (سورة ال عمران).

ته ورګرځي خوځه خلک داسې وي چې دغرونوپشان ګناهونه کوي خوهیڅ احساس هم نه ورته پیداکېږي.

که ورته ویل کېږي چې غیبت مه کوي وايې چې غیبت ډېره ساده خبره ده که ورته وویل شي چې د(سبال الثوب) نه ډډه وکړه (یعني پایڅې په ځمکه مه درپسې ځکوه) وايې چې داوړه خبره ده. که ورته وویل شي چې دږیرې دکلولونه ځان وساته، وايې چې داڅه دومره لویه خبره نه ده. اسلام کوم داسې ځیزنه دی چې ږیره کې خلاصه شوی وي. همدې ته ورته واهیات او ارڅه برڅه خبري کوي اوداسلام دعملي کولو نه ځان خلاصوی اوګناه ته هڅه کوي اوداسلام دعملي کولونه ځان خلاصوي اوګناه ته څه اعتنانه لري.

## دګناه شپږمه اغیزه (تاثیر) / دزړه سختوالی

دزړه سختوالی دوه درجې لري په قران عظیم الشان کې په مهر لګیدوتعبیر شوی دی.

څوک چې دزړه په سختوالی په مرض اخته وي عموماً قهقهه اومستانه خنداوی کوي، ځکه چې دهغوی په زړونوکې سختي اوویره وي، ځکه غواړي چې دهغه داخلي ناکلارۍ نه دڅه وخت لپاره په هغه طریقه ځان خلاص کړي اویاداچې دبې حیایۍ نه ډکي مجلې اورسالې لولي، اویاهم سندري اوري، ولي داسې بداخلاقه خلک دقران داوریدلو جرائت نه لري په الله قسم چې دځینو سر کشونه دا اوریدل شوي چې کله یې دقران تلاوت دراڅیونه اوریدلی ویلی یې دی چې نه نه! پرېږدئ چې څه مستي اوساعت تیرې وکړو. اوپرېږدی څه

لړغوندي ارام وخت تیر کړوداځکه چې قران کریم هغوی خپلو مکلیفتونوته متوجه کوي اوهغوی ته اګاهي ورکوي اوپه بدواعمالو هغوی رسواکوي اودخدای حضورته هغوی وړاندي کوي چې بایددخپلو نارواکړوووړوحساب الله ته ورکړي.

دهمدې وجي نه دقران داوریدونه اجتناب کوي او سندري اوریدلو ته پناه وروړي. موسیقی اوسندري هم ایتالوي اوالماني اوانګریزي اوري اود ویده کیدونه مخکې غوږونه دهغوی نه ډکوي خوبیا هم داسلام اودرسول ﷺ سره دمینی دعوی لري.

په داسې حال کې چې قران کریم هغوی اسلام اودرسول کریم ﷺ محبت ته رابولی خوهغه څناور هیڅ توجه هم دې ته نه ري اسلام په دی ځای کې دسر کشوترسختوحملواویرغلونولاندې دی. اومسلمانان هم په وړو وړوړلو ټپلو وېشل شوی خوددې مصیبت هیڅ فکرهم ورسره نشته اودا داصل اوفرع په نامه چې کومه صطلاح ده زموږ اسلافو دین داصل اوفرع اوقشروجودنه لري اسلافو اسلام یو اجتماعی واحد پیژاندو چې دژوند دټولو امورو په برکې نیوونکی و. اودهمدې اجتماعی واحد دتعلیم اوښودنی لپاره یو معلم مبعوث شو، چې محمد رسول الله ﷺ نومیده، رسول کریم ﷺ د( لااله الاالله) نه نیولی چې راس التوحید دی تر( اماطة الاذی عن الطریق صدقة). پورې دژونددټولو امورولپاره رالیږل شوی اودټول دین دعوت یې خلکوته ورکړی اودټول دین داحکامو دتطبیق لپاره یې هلی ځلی کړي دي، که دیوې خوانه وایې، چې ماسیوا دالله نه بل

معبود نشته دبل خوانه دیوه ډیره په ظاهره واړه کاربښودنه هم کوي چې دلاري نه مضرڅیزلیری کول هم صدقه ده.

ددې ټولو خبرونه دانتیجه اخلو چې ټول په ټوله هغه زړه چې سخت اوبې حسه شوی اویااصلاً مړشوی په ګناهونوکې لوغړیږي اوهیڅ څیز وربانديې اثرنه کوي.

الله جل جلاله دداسې بې حسه اومړو زړونوپه هکله دبقرې په سورت کې فرمايي: ثُمَّ قَسَتۡ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَٱلۡحِجَارَةِ [1]

(ژباړه) بیا سخت شول زړونه ستاسو وروسته دهغه نه نوداسې دی لکه کاڼي.

امام تقی الدين د (درء تعارض العقل والنقل) په کتاب په دوهم ټوک کې وایي: چې هرخطاب بني اسرائیلو ته شوی په واقع کې دهغه نه مقصودموږیو، عام متل دی چې وایي: لوري وایم تاته خومږ.ورو اوره ته.

الله جل جلاله دحديدپه سورت کې فرمايي:

أَلَمۡ يَأۡنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَن تَخۡشَعَ قُلُوبُهُمۡ لِذِكۡرِ ٱللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ ٱلۡحَقِّ وَلَا يَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلُ فَطَالَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَمَدُ فَقَسَتۡ قُلُوبُهُمۡۖ وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ١٦ [2]

(ژباړه) : ایادمسلمانانولپاره هغه وخت نه دی رارسیدلی چې

---

[1] (سورت البقره).

[2] (سورة الحديد).

خاشم اوتابع شي زوړونه دهغوی دالله دذکر لپاره اودهغه څه لپاره چې رانازل شوی دی دحق نه اونه دی کېږي پشان دهغوخلکوچې ورکړل شوی و کتاب دمخکې نه، نو اوږد شوپه دوی باندې ژوند، نوسخت شول زړونه ددوی اوډېر ددوی فاسقان دي.

مسلمانانو وروڼو! ابن قیم رحمه الله په خپل کتاب (مدارج السالکین) کې دزړه سختوالی سببونه ذکرکړي اودهغې جملی نه يې گناهونه په گوته کړي اوهمدغه زموږدبحث موضوع ده دمباحاتو ډېربښت (یعنی په مباح کارونوکې ډېرمشغولېدل) ډېري خبري چې دالله ذکرپه کې نه وي ډېر خوراک، ډېرخوب اوډېر اختلاط دغه ډول هغه سببونه دي چې زړه سختوي اوهمدغه اموريې په يوه عجيبه طرح تفسیر کړی په هرحال دزړه مرگ (چې الله مودي دداسې بدبختی نه وساتي) دانسان هرڅه په اوبولاهوکوي الله جل جلاله دانعام په سورت کې فرمايي:

أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَافِرِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾ (١)

(ژباړه): ایاهغه څوک چې مړه و نوژوندی موکړل او وموگرځوله دهغوی لپاره رڼا، چې درومي په هغې سره په خلکوکې دهغه چاپه شان به وي چې په تیاروکې وي اونه دی دهغه نه وتونکی همداسې (لکه چې

١ (سورة الانعام).

ښايسته کړل شوی دی مؤمنانو ته ايمان، ښايسته کړل شوي دي کافرانو ته هغه شی چې دوی يې کوي له کفراومعاصيو څخه.

دزړه سختوالی په مومن کې هم پيداکيږي، دعبدالغنی مقدسی نه پوښتنه وشوه لکه چې ابن رجب دهغه دژوندپه حالاتوکې د( ذيل طبقات الحنابله) په کتاب کې دهغه ذکر کوي اوهمدا راز ابويعلی الفراء په( طبقات الحنابله) نومې کتاب کې وايې چې ورته وويل شول، څه دی صحت ددې حديث:

(ان ابابکرمرعلی قوم من الصحابة فوجدهم يبکون،قالوا کناکذلک حتی قست قلوبنا، قال سببه بعض شواغل الحياة التی تحدث للمؤمنين فقديقسوقلبه بذلک وهوليس اثم وهذا بسبب فعل مباح).

(ژباړه): ابوبکرپه څه اصحابوباندې تيريدی اوهغوی يې په داسې حال کې وليدل چې ژړل يې، ويل يې چې موږ داسې وو ځکه موږړونه سخت شول، ويې ويل چې سبب دژوند ځيني مشغولتياوی دي داسې چې مؤمن ته پيښيږي نويقيناً سختوي زړه دهغه په هغه کارسره په داسې حال کې چې هغه ګنهګار نه دی، ځکه چې هغه مباح فعل دی اوهغه مجاهدچې دتوري ټانګ اوتوپ اوالوتکی سره ژوند تيروي په دې اندازه دزړه نرمښت نه لري، نوعذر کوي اوشکرباسي په هغه باندې( که څه هم يومجاهدپه دې باندې ګنهګارنه دی) ليکن دهغه نه مطلوب دادی چې دژوندپه ټولو

اړخونوکې به تکیه کوونکی وي.

البته هغه سختوالی چې انسان وربانديې ملامتیږي هغه عبارت دی دالله ﷻ دذکر دترک کولونه، اوقران ته په شاکولونه، اودمرګ په هیریدلوسره اودالله حضورته په ورتللوسره غافله کیدل.

## دګناه اوومه اغیزه (تاثیر) /دژوندخرابیدل

هرشي بدلیدلای شي بې دعمرنه اوهرڅه چې دلاسه ووزي بیرته لاس ته دراوستو امکان یې شته په څه طریقه سره خوژوند داسې نه دی ژوندچې یوځل تیرشو، بیابه بیرته نه راګرځي چې تیرشول هغه فوت شول.

(مامضی فات اوالمؤمن غیب ولک الساعة التی انت فیها!)

څه چې تیرشول هغه فوت شول اوراتلونکي هم اونامعلومه دی اوستاپاره هغه ګړی اوساعت دی چې ته په کې یې الله ﷻ دفاطرپه سورت کې فرمایي:

اَوَلَمۡ نُعَمِّرۡكُمۡ مَّا يَتَذَكَّرُ فِيۡهِ مَنۡ تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيۡرُ ۖ فَذُوۡقُوۡا فَمَا لِلظّٰلِمِيۡنَ مِنۡ نَّصِيۡرٍ ﴿۳۷﴾ (۱)

(ژباړه): وبه وایو چې ایاتاسوته مي دومره ژوندنه و درکړی چې پندپه کې واخلی په هغه کې هرڅوک چې غواړي ترې پند په کې واخلي په هغه کې هرڅوک چې غواړي ترې پندواخلی اوراغلی

---

(۱) (سورة فاطر).

تاسوته وړوونکی.

همدارنګه الله ﷻ دژوندنه پایښت په هکله فرمایي:

قَٰلَ كَمۡ لَبِثۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُواْ لَبِثۡنَا يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖ فَسۡـَٔلِ ٱلۡعَآدِّينَ ﴿١١٣﴾ (١)

(ژباړه) : څو کاله ژوند موو کړ په مځکه کې ویې ویل واوسېدلویوه ورځ اویاځه برخه دورځي نوته په خپله پوښتنه وکړه دحساب کوونکو څخه.

البته دغه پوښتنه الله تعالی ددې لپاره کوي چې دد.یادژوند لنډوالی ددې نه هم لنډ وښايې لکه چې فرمایي:

أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ﴿١١٥﴾ قَٰلَ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ لَّوۡ أَنَّكُمۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿١١٤﴾ (٢)

(ژباړه) : ژوندمونه دی درکړی په دنیاکې مګرلږ.دغه نه دریغه چې تاسوپوهیدلای ایاتاسوګومان کوي چې ماتاسوعبث پیداکړي یاست اوماته به نه راګرځی؟ نودلوړومرتبو خاونددی الله تعالی بادشاه دحق دی نشته هیڅ معبود مګرهغه رب دعرش عزتمن.

دابن عباس رضي الله عنه نه روایت شوی:

( نعمتان مغبون فیهما کثیرمن الناس الصحة والفراغ ) (٣)

---

١ (سورة المؤمنون).

٢ (سورة المؤمنون)

٣ صحیح البخاري: ٧ / ٤٢ . دحدیث ګڼه ٣٦٨٨.

(ژباړه) : دوه نعمتونه داسې دي چې ډېرخلک په کې دوکه شوی هغه روغتیا اوفراغت دی.

هغه ډېرسترعامل چې عمر خرابوی هغه ګناهونه دي، نوباید چې هڅه وکړی چې هغه څه ته چې هڅه کوله ورته سلفواوهغه بامقصدژوند تېرول و، چې سلفو ترینه ګټه اخیسته خوکه ژوند دګناهونوخوراک شو بیانودنیااواخرت دواړه دلاسه وتلی اوپه الله ﷻ باندې پناه غواړو دداسې هلاکت اوتباهۍ نه.

نېکواسلافو به په مباحاتوکې داشتغال نه ډډه کوله خواوس موږ متاسفانه چې خپل ډېرقیمتی ژوند په ګناهونوکې تیروو.نه چې په مباحاتوکې، الله ته سوال کوو چې موږاوټول مسلمانانوته رجوع رحمت سره وکړي.

کنزبن وبره ته وویل شول چې دموږسره کینه(کنزدیوه سړی نوم دی) کنزورته وویل چې لمرودروی چې زه ستاسوسره کینم، ددې خبر مطلب دادی چې لمر په دایمی خوځښت کې دی اوپرله پسې عمرونه قرضوی یعنی کموی یې (نوزه څنګه کینم اوخپل عمرپه بې فایدې کیناستلو صرف کړم).

دقات قب المرء قائلة له   ان الحياة دقائق وثواني

(ژباړه) : دزړه حرکت انسان ته وایې چې ژوند څودقیقی څوثانیی دی بدبختی هغه ده چې په مسلمانانوکې یې وینوزه دکافرانوخبره نه کوم ځکه چې هغوی په دې مورد کې هیڅ حساب نه لري اوکافران دالله تعالی سره څه مقام اومنزلت نه غواړي اوهغه

يې قصداً ضايع کوي (انسوالله فنسيهم) الله يې هير کړ، پس الله هم دوی هير کړل، خو دمسلمانانو اکثريت په داسې حال کې مبتلا دی چې الله دي وربانديې رحم وکړي خپل ډيرښه ژوند خرابوي، ددې نه په بله ستره ګناه څه وي چې مسلمان خپل ژوند ضايع کوي اودخدای داطاعت نه سرغړوي.

## دګناه اتمه اغيزه (تاثير)

دګناهونووروستی علامه اونښه چې قلبی قساوت ته منجر کيږي داده چې انسان په اخرت کې دسختو سختيوسره مخامخ کوي اوهغه سختی اوعذابونه الله ﷻ په خپل کتاب کې اورسول کريم ﷺ په حديثو کې ذکر کړی دزانی لپاره عذاب دی دشرابی لپاره عذاب دی دقاتل لپاره عذاب دی دکاذب لپاره عذاب دی دوالدينودعاق لپاره عذاب دی نوپه الله تعالی باندې پناه غواړوعذاب دالله ﷻ نه.

رَبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيٗا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ ﴿١٩٣﴾ [1]

(ژباړه): ای زموږ ربه! يقيناً چې واوريدله موږ چيغه دمنادی چې په لوړ اواز يې خلک دايمان لوري ته بلل او ورته ويل يې ايمان راوړی په رب خپل باندې، نوايمان راوړموږ، نو وبښه موږ ته ګناهونه زموږ اوليری کړی زموږ نه بدی زموږ اومړه موکړې دنيکانوسره.

---

[1] (سورة ال عمران).

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۖ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ۗ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿١٨٥﴾ (١)

(ژباړه) : څوک چې خلاص شو ددوزخ داورنه اوننووت جنت ته، نويقيناً چې مرادته ورسيداونه دی ژوند ددنيامګرڅه متاع ددوکی (چې بقايې لرېه اوفنايې ژرده).

رَبَّنَا إِنَّكَ مَن تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿١٩٢﴾ (٢)

(ژباړه) : ای زموږ ربه يقيناً ته چې څوک دننه کړې اورته نويقيناً چې رسوا دی کړهغه اونشته دظالمانولپاره هيڅ مرستندوی.

په اخرکې ووايو چې انسان ته هيڅ شی هم باقی نه پاتی کيږي نه شرف اونه عزت اوهم نه قدرت هرڅه پای ته رسيدونکی اومخ پرزوال دی يوازی دالله مقدس ذات دی چې باقی پاتی کيږي اوانسان ته که څه پاتي کيږي هغه داسې عمل دی چې صادقانه اومخلصانه يې دالله لپاره کړی وی.

سبحان ربک رب العزة عمايصفون وسلام على المرسلين والحمدلله رب العالمين.

---

(١) (سورة ال عمران).

(٢) (سورة ال عمران).


دھر دول چاپ لوم رنی اداره
مکتبة الحرم
MAKTABAT UL HARUM
Mohallah Jangi Peshawar Pakistan
محلہ جنگی پشاور
سردار پلازه اکوڑه خٹک
0300-9395919
0306-7616569
زیر اہتمام
طالب العلم فضل الرحمن حیدری
حافظ عین الدین ابراهیمی
091-2580182
0300-5991873
0321-9333526
AL-HUDA
محلہ جنگی پشاور